محمدمعصوم هوتک ۰۵/ ۰۲/ ۲۰۰۹م

# نواب عبدالجبارخان دیوه انګلیسی مشاهد له نظره

[در ماه اگست سال پار مقالتی در مورد نواب محمدزمانخان نوشتم وآنرا هم به پورتال افغان جرمن آنلاین وهم به مجله آئینه افغانستان برای نشرسپردم و در پایان آن یاد آورشده بودم که نمیدانم از اعقاب نواب زمان خان چکسانی باقی مانده اند ودرکجا زندگی میکنند، اگر کسی از این خانواده اطلاعی داشته باشد نویسنده را یاری کند تا شجره این خانواده تکمیل گردد.چندی بعد دانشمند گرامی اقای معصوم هوتک، مطلبی را در مورد نواب جبارخان وبقایای خانواده نواب زمانخان تهیه کرده برای من فرستادند، در آغاز من تصور می کردم که این مطلب حتماً درسایت بینوا ویا سایت لروبرافغانستان به نشر سپرده خواهد شد، بنابرین آنرا در یک فایل نزدخود محفوظ داشتم،مگر هر گاهی که به سایت بینوا ولروبرافغانستان سرمیزدم، این نوشته درآن سایت ها به نظرم نمی آمد. امروزیک باردیگر نظرم به این نوشته افتاد وآنرامروورکردم، دیدم درضمن معرفی نواب جبار خان واولاده وی، نکات دیگری هم از قلم نویسنده در باره راه های تجارتی هند با کابل وغزنی وقندهار ونیز روابط او با برادرانش وزیرفتح خان و امیردوست محمدخان وسیاحان اروپائی آمده که برای درک شخصیت نواب مذکورولو از زبان یک انگلیس هم باشد کمک خواهدنمود.برای آنکه فیض این نوشته عام تر گردد، آنرابه پورتال افغان- جرمن آنلاین فرستادم تا به نشر بسپارند.
سیستانی ۴/ ۲/ ۲۰۰۹]

ددي ليکني انګيزه دښاغلي کانديداکادميسن اعظم سيستاني هغه يادونه وه چي د"**نواب محمدزمان خان ونقش اودرقيام کابل**" په نامه يي په يوه تحقيقي مقاله کي کړې ده اوپه هغې کي يي دډاکترصاحب هاشميان له خولې ويلي دي :" درباره نواده واعقاب نواب جبارخان معلومات کافی دردست نیست ...." اوورپسي زياته کړې ده چي " ... اميدوارم ... برای اصلاح وتکميل شجره خاندان نواب محمدزمان خان ونواب صمدخان ونواب جبارخان نويسنده راکمک کنند"(مجله آئينه افغانستان شماره مسلسل ۱۱۱ـ اسد۱۳۸۷ـ ۲۰اګست ۲۰۰۸).
زماسره دنواب عبدالجبارخان اودغه راز دنواب محمدزمان خان د اخلافو په باب ځيني يادښتونه سته چي ښايي له موضوع سره يوڅه مرسته وکړي .
دنواب جبارخان په باب زما دياداښتوزياتره برخه د (۱۸۰۱-۱۸۶۳)Godfrey Thomas Vigne پرهغه کتاب باندي ولاړه ده چي (A Personal Narrative of a visit to Ghuzni,Kabul & Afghanistan) نوميږي اودلومړي ځل لپاره په ۱۸۴۰ع کال په لندن کي چاپ سوی دئ خوزماسره يي د۲۰۰۴ع کال نوی چاپ سته . داچاپ يي دمنشي رام منوهرلال طباعتي موسسي له خواپه ډهلي کي سرته رسېدلی دئ .
ګاډفري د۱۸۰۱ع کال دسپتمبرپراوله په لندن کي زېږېدلی اود۱۸۶۳ع کال دجولای پردوولسمه په ( Wood Ford,Essex)کي د۶۱کالوپه عمرمړسوی دئ . ده په ۱۸۳۱ع کال دمارچ پر۲۴مه له ليورپول څخه نيويارک ته تللی دئ اوهوري يي شپږمياشتي تيري کړی دي . امريکاته دخپل دغه سفرداستان يي په يوه بل اثرکي بيان کړی دئ چي (Six months in America)نوميږي .د ده د( Travels in Kashmir,Ladak,Iskardo,the countries adjoining the mountain)په نامه يوه بله سفرنامه هم لري .
زه به مخکي له دي چي اصل موضوع ته ورننوزم ،لومړی به دګاډفري دسفراوپه لارکي دهغه دمشاهداتوپه باب (۱) يوڅه وړغيږم .ګاډفري چي په ۱۸۳۵ع کال له کشميرڅخه لودهيانی ته ستون سو، دکابل دسفرتياری يي پيل کړ.دسفردتياري په ترڅ کي يي په لودهيانه کي دافغانستان له دووپخوانيوپاچهانو،شاه زمان اوشاه شجاع سره وکتل . دی ليکي :
" کپتان وېډ(Captain Wade) زه اوله کشميرڅخه زما دسفرملګری بارن هګل(Baron Hugel) شاشجاع اوشاه زمان ته وروستلو. شاه شجاع دخپل کورپه شاه نشين کي پريوه چوکی باندي ناست و. لږڅه ګوښه دوه قطاره ملاقات کوونکي ورته ناست ول . دی پنځوس کلن ښکارېدئ . قديي ميانه و خوځېره يي ښکلې وه . کره وړه يي ديوه داسي جنټلمن ايسېدله چي خپله هستي اوشتمني يي له لاسه ورکړې وي ،نه ديوه داسي پاچا چي سلطنت دي يي بايللی وي . توربخونه چينه يي پراوږو او سپينه بګړی يي تړلې وه .دسپينو وربښمو دستکشي يي په لاس وې ...حکومتی بيان يي تول له کپتان وېډ سره و. مورته يي دکښېنستلو اجازه را نکړه او دملاقات په توله موده کي يي پر پښوورته ولاړ وساتلو. وروريې شاه زمان د ودانۍ په يوه بله برخه کي اوسېدئ . موږ ده ليدوته ورغلو. دليدني په وخت کي موږ پرپښوولاړ وو اودی پرمځکه ناست . ځېره يي ژړوشمه وه، په تن ډنګر او په زړه مات ښکارېدئ .سربه يي تل ښوراوه .دکشمير په باب يي ډېري پوښتني وکړې اوزياته يي کړه چي اوس دکشميرشالونه د پخواپه شان نازک او

نفیس نه دي . ده وویل : دده په یاد دي چي اولني سنګین شالونه به ترګوتمی تېرېدلای(وتلای) سوای .دکشمیر ښکلایي وستایله خودي بېچاره او په سترګوړوند شهنشاه وویل : (هو! کشمیرپه رشتیا سره ښکلی دئ . هوا او اوبه یې ښې دي) .خوپه افسوس سره يې سروښوراوه اوله داسي یوه اسوېلي سره يې،چي ما هیڅکله اورېدلی نه و، وویل : کابل،کابل، کشمیرترکابل پوري هیڅ نه دئ خوزه به یې هیڅکله هم بیاونه وینم ."
په لودهیانه کي یوښوونځی و، چي دمسټرولسن اونیوټن په نومو دو وامریکایي مسیحي مبلغینو تاسیس کړی و. په دې ښوونځي کي پرنورو شاګردانو سربېره دنواب عبدالجبارخان زوی عبدالغیاث خان ،درنجیت سنګهـ دلوی جمادارکوشیل سنګهـ زوی بسن سنګهـ او دیوه سکهـ وکیل زوی کیشن چندهم درس لووست . دګاډفرې دحرکت په وخت کي ددغه ښوونځي د ازموینی وخت و. دی لیکي چي دزده کوونکواستعدادته حیران پاته سو. د درجې په لحاظ ځوان نواب عبدالغیاث خان لومړئ درجه، دجمادارزوی دوهمه درجه اود وکیل زوی دریمه درجه و. دا ښوونځی وروسته وتړل سو او پلرونه خپل زامن په دې خاطرځني وایستل چي زده کوونکوته دمسیحیت ښوونه هم پر زیاته سوه . (افغاني زلمیوته دمسیحیت ښوونه تردغه وخت یوسل اویاکاله وروسته بیا روانه ده . م .هـ)
ګاډفرې د۱۸۳۶ع کال دمارچ پر۱۲مه يې له لودهیانې څخه د ملتان پرلورمخ ونیو او دخپل سفرتګلوری يې دسلیمان غروله لاري څخه غزنی اوکابل و. له ملتان څخه د اپرېل پراوولسمه ووت اوځان يې درابڼ ته ورساوه .ده د دغه سفر یوه برخه ( له درابڼ څخه) له لوهانیو(لوانیو) سوداګرو سره په یوه قافله کي وهلې ده . لوانیو سوداګروبه په دغه (۲) وخت کي هرکال له درابڼ څخه دمالونو درې قافلې غزني کابل اوکندهارته بېولې .په لومړئ قافله کي به خچره مالونه اومالګه استول کېده . دې قافلې به له درابڼ څخه داپرېل په سرکي حرکت کاوه . دوهمه به دهمدې میاشتي په پای کي روانېدله اودریمه یې چي ترټولوغټه قافله به وه،دمی په پای کي کوچ کاوه. لوانی سوداګرهرکال له حیدرآباد، کلکتې، بنارس،ډهلي،جیپوراودهندوستان له نورولویوښاروڅخه کیمخاوي (کیمخاب)، بنارسیاو نورنفیس ټوکران، دتوپو او توپکوسامانونه اونوروړته مالونه کابل ، غزني ،کندهاراووروسته بیا تربخاراپوري رسول . له هغې خوابه يې له کابل اوکندهارڅخه انار،بادام ، کشمش اورواش، له بخاراڅخه به يې اسونه، ګلابتون، وریښم اونورمالونه وړل .
ګاډفرې په ملتان کي له لنډتم کېدووروسته د اپریل پر۱۷مه مخ پردرابڼ روان سواود۱۸۳۶ع کال داکتوبرپر۱۵مه له درابڼ څخه دلوانیوپه دریمه قافله کي دغزني اوکابل پرلوروخوځېد.دی چي له لودهیانې څخه مخ پرملتان ،غزني اوکابل رارهي کېدئ، دنواب عبدالجبارخان دزوی عبدالغیاث خان څخه يې یوسپارښت لیک دلوی نواب په نامه راخیستی و.غزني ته له رسېدوسره سم يې دالیک نواب ته واستاوه اوورڅخه ویې غوښتل چي یوڅوک دبدرګې له پاره ورته راولېږي. نواب عبدالجبارخان خپل پخوانی نوکرمرتضی خان قزلباش ورته راولېږه . ګاډفرې ترغزني وروسته سفردمرتضی خان په لارښوونه پیل کړ. دغزني ښارېي وکوت اودمیدان له لاري دکابل په چهاردهي کي ،دکابل له ښارڅخه درې میله لیري ،دنواب کلاته ورسېد. نوربیان به دده په خپلوالفاظوباندي ولولو:
" دچهاردهي کلاوي څلورکونجه دي .په هرکونج کي یې یوبرج ولاړدئ .یوه دروازه لري اودېوالونه یې دختودي .په برجانو،فرش اوزینوکي یې لرګي هم کارسوي دي . دنواب (عبدالجبارخان)کورنۍ دلته اوسي .څلوردېرښکلي زامن یې په منډه زماخواته راغلل اوسمدلاسه یې دخپل ورورعبدالغیاث خان په باب ،چی په لودهیانه کې دکپټان وېډپه ښوونځي کی درس وایه، پوښتني شروع کړې .څرنګه چي زه دنورو زیاترو اروپایانوپه شان دنواب مېلمه وم ، نومي له دغو زلمیوسره زیاته لیدنه کتنه درلوده .په دې څلوروزامنوکي یې مشرعبدالغني خان دئ .ځیرک،ښورانده اونجیب هلک دئ . ماورسره وعده وکړه چي که یې انګلیسي الفبې زده کړه، بیایوټیلسکوپ په انعام کي ورکوم .دریمه ورځ یې زماپه شان راته تکرارکړه. خونورمي بایدنه وای په زده کړې ځکه چي زمادسوغاتوزېرمه یې راسپېره کوله .دوی به پخپلومنځوکي په مردکولوبي کولې .دنواب دوې کوچنۍ لوڼي یې هم ماته راوستلې چي تصویریې وررسم کړم . یوه یې چي غونډه منډه نجلۍ وه، یوه شیبه هم له ژړاڅخه نه آرامېدله.دابله يې په مرګ بېرېدله اوله سترګویې داوښکو شورسو، خونیم ساعت قدرراته کښېنستله . په کلاکي یې ماته چای اومېوه راوړه اوسمدلاسه یې ښارته سړی واستاوه چي نواب زماپه راتګ باندي خبرکاندي . غټ مازیګروچي نواب راغئ اوبې له مخکینۍ خبرتیاپه کوټه راننوت .څوواره یې توده اودزړه له کومي سټړې مسې ( خوش آمدید)راته وویله .بیایې نوڅلورپنځه پخوانۍ زړې سِکې دسوغات په توګه په لاس کي راکښېښوولې . نواب جبارخان ...دڅېرې له مخي پنځه پنځوس کلن(۳) ښکارېدئ ،قدیې تقریباًپنځه اعشاریه نهه فوټه جګ ، نسبتاً چاغ سړی و. څیره یې توربخونه اویوڅه یهودوته پاته کېدله .ډېرملایم طبیعت یې درلود.موریې دپاینده خان په (زنانه وو)کي سریته وه .... نواب ته په زلمیتوب کي دمحمدعظیم خان توجه زیاته سوه .دخپل سکه ورورچلندیې ورسره کاوه او د ډیره اسماعیل خان دوالي په توګه یې مقررکړ.هورې یې ډېرشهرت وګاټه خوددې وطن دنوروالیانوپه شان یې داختلاس له توره ځان خلاص نه کړای سو.کله چي دکابل محمودشاه (سدوزی . هـ) سندهـ ته دمالیاتو دراغونډ ولوپه نیت ولاړ،نواب یې دحساب ورکولو له پاره راوغوښت . فتح خان (مرادوزیرفتح خان دئ. هـ )ورته وویل چي یابه د درو لکو روپوکسرتادیه کوې، یابه په دي په سترګوړندوم


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

.نواب عذر و زارۍ ورته وکړې اوپه پای کي یې یوه سره بخملي خېمه محمود ته ورکړه او په پېنوکي یې ورولوېد. په دې توګه وباخښنه سوخو د ډېرې له حکومته لیري سو.دی ډېرژرد کابل والی سو. فتح خان پر نواب باندي د ده د شهرت له امله شکمن سو او نواب له بیري څخه کشمیرته محمدعظیم خان ته پناه ور وړه او هورې یې نوموړی بغاوت ته وهڅاوه .

په کشمیرکي دوزیرفتح خان قوت ماته وخوړه خودی په زړه ورتیا سره دمحمدعظیم خان کمپ ته ورغئ اوپوښتنه یې ترې وکړه چي ده څرنګه نواب ته اجازه ورکړه چي دجنجال سبب سي . ددوی ترمنځ سوله وسوه خونواب دوزیرفتح خان درندولوتروخته په کشمیرکي پاته سو. ددغي پېښي په وخت کي محمدعظیم خان له کشمیره پرکابل باندي مارش وکړ اونواب جبارخان یې دکشمیرد والي په توګه پرېښوو. یوکال وروسته نواب دبریالیواوفاتحو سکهانو په واسطه دکشمیرله ولایته وشړل سو. په پای کي دغلجیوحکومت وروسپارل سوچي دکاله یې نوي زره روپۍ مالیات درلودل . خوله دې مقامه څخه دمحمدعظیم خان د زوی عبیدالله(شایی حبیب الله وی، خکه محمدعظیم خان دعبیدالله په نامه زوی ندرلود.س) په واسطه لیري سو. په دغه وخت کي دوست محمدخان اونواب جبارخان سره متحد سول اوعبیدالله یې له کابله وشاړه. نواب ته بیا دغلجیوحکومت ورسپېد خو دوست محمدخان امیردا حکومت بیرته ځنی واخیست او ورته ویې ویل ، ترڅوچی زه په کابل کي یم ، تاته به دکاله اویازره روپۍ مالیات درکوم . پردې مالیاتو سربېره دنواب دځپلو مځکوعایدهم چي شل پنځه ویشت زره روپۍ کېدئ، پر ورزیات سو او دکاله یې ټول عاید تقریباً دشپېرزره پنځه سوه پونډومعادل سو.

دنواب اغېزه ډېره ستره وه خود ده د ورورد‌وست محمدخان لیاقت ترده زیات و اود یوزیات شمېرخورو ورو مخالفتو سره سره بیاهم دی (دوست محمد خان) دپاچهۍ له پاره مصمم ښکارېدئ . نواب ته د یولوی دسیسه جوړوونکي په سترګه کتل کېدله که څه هم ده هیڅکله هغوخائنانه پیغامو او بلنوته ،چي ده ته رسېدلې وه، پاملرنه نه کوله . هیڅ مسلمان واکمن په هیڅ وطن کي لړیا ډېرله دسیسو څخه چاره نلري . دده (نواب) په باب ویل کیږی چي ده له شاشجاع سره هغه وخت اړیکي درلودې چي نوموړی په ۱۸۳۲ع کي له لودهیانې څخه د دښمنۍ په غرض کندهارته ورسېد.نواب له دوست محمدخان څخه وغوښتله چي ده ته اجازه ورکړي چي پخواني شاه (شاه شجاع) ته ورسي اوستونزي ورسره حل کړي . خوامیردوست محمدخان ورته وویل داکاربه هغه وخت وکړي چي که یې خپلي (۴) قواوي ماتي سوې . کله چي نواب دغلجیو ګورنر و،دی دتګاو غرنۍ سیمي ته ننوتلی و. هورې برید پرسوی و او توپونه یې له لاسه ورکړې وه . په دا بل کال دوست محمدخان پخپله پسي ولاړخونواب دتګاوغرنیو اوسېدونکوته ولیکل چي د ده پر ورور باندي سخته حمله وکړي او دی به پخپله هم د مرستي سرښته وکړي . ده داکارصرف په دې خاطر وکړچي وروریې د ده دپخوانۍ ماتي له امله ورباندي ونه خاندي . دده لیکونه پرلاري ګیرسول او په سره سینه یې دځپل ورورد‌وست محمدخان له خوا ورکړه سول .کله چي دوست محمدخان هغه سیمه ونیوله ، یومازیګریې دځپلو افسرانو په مخ کي دځپلو توپونو میلې مچ کړې او وېویل : دا توپونه ماته ترځپلو ورونو تیروني وه .... له انګرېزانوسره دنواب مینه د ده دکرکټر یوه ځانګړې برخه ده . ماته ویل سوي دي چي په تېرو شپاړسو کلونوکي دده زیاته هیله داوه چي ایست اندیا کمپنۍ دي کابل ترځپلي حمایې لاندي ونیسي .که څه هم ده ته زیات ډاډورکړه سوی نه دئ خوشک نسته چي په دې باب به زموږ لخوا لږڅه پرمختګ ته په ډېري دلچسپۍ سره غوږنیول سوی وای . د ده مشرزوی عبدالغیاث خان دانګرېزي ژبی دزده کړي په مقصد له څوکلونو راهیسي په لودهیانه کي و. ما یو یا دوه تنه نورونه موندل چي له ده سره دي سیالي وکړای سي خو د نواب مشرورورد‌وست محمد به تل پرده باندي په دې خاطرخندل چي دهندوستان حکومت دده له زوی سره دمېلمستیا ځانګړی چلند نه وکړئ اوګویا دده زوی ټول خرڅ وخراجات یې نه ورکول ... زه ډېرخوښ وم چي دنواب له خولې مي د تعارف اومهربانۍ په ربښتینې شرقي توګه اورېدل چي هرڅه چي ده درلودل ،هغه زماوه ـ پخپله وطن هم ګویازماځپل و ـ هرڅه چي مي زړه غوښتل،کولای مي سول ـ هرځای چي مي خوښ و،تللای سوای ـ چي زړه مي غوښتل ،دهغه ځای نقشه مي اخیستلای سوای اوپه دې ډول مي ځان بالکل په خپل کورکي باله . ده دټولوهغو اروپایانو نومونه لږ وډېر اخیستل چي پخواکابل ته راغلي ول اود ده مېلمانه به ول . ده ټول خپل ملګري بلل . ده لیک لوست نسوکولای او د زیاترو شرقیانو په شان دځپل هیواد په تاریخ هم لږخبرو.ماورڅخه وپوښتل چي دغزني منارونه چاجوړکړي دي؟ په جواب کي یې راته وویل ( زه څه په خبریم) خو وروسته یې لکه مسیز شېنډي (Mrs.Shandy)چي دسقراط په باب ویلي و،ده هم ځان په دې جواب قانع وګاڼه چي (داودانۍ ډېري پخواجوړي سوي دي)....".

ګاډفرې وروسته دنواب جبارخان او په کابل کي دایسټ انډیاکمپنۍ دخبریال مسټرمېسن(Mr.Masson)په ملګرتیا دکابل ښارته ځي اوددغه ښارپه باب بېلابېل معلومات وړاندي کوي . دآب وهوا،کرني ، تاریخي ځایو د ښار او بازارونو دجوړښت اوشکل،دښارداوسېدونکو د اتنیکي ریښو،دافغانانو داتنیکي مبداء، مېوو او نورو اړخونوپه باب تفصیلي بیان کوي . دی وایي چي دافغانانو داصل ونسب په باب یې معلومات په تاریخ باندي دیوه شخص څخه چي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ملاخداداد نومېدئ، ترلاسه کړي دي . دی وايي نوموړي ملاخداداد ورته دغه معلومات له یوه کتاب څخه ورکړل چي مجمع الانساب نومېدی . دملاخداداد نوم زما ذهن ته دمورخ فیض محمد کاتب دنیکه نوم تداعي کړ،خوداخبره نوره څېړنه غواړي . ګاډفري په کابل کي دکرني په باب د بیان په ترڅ کي یوه خبره کوي چي (۵) ښايي دکرنیزوڅېړنوپه برخه کي په زړه پوري وي اوهغه داچي وايي کابل ته دېټاټو(کچالو)تخم واردواره له لودهیاني څخه د( Captain Wade) لخوا راولېږل سو اونواب جبارخان پخپلو مځکوکي وکاره او ډېره ښه نتیجه یې ورکړې ده .دی زیاتوي چي کچالوپه فارس کي له پخواڅخه دسرجان مالکم(Sir John Malcolm) پرلاس عام سوي دي . د اتخم کشمیرته دلومړي ځل لپاره ببرن هګل (Baron Hugel) وړی و(۷۸ مخ).

ګاډفري د۱۸۳۶ع کال داکتوبرپر ۲۱مه له کابل څخه دپېښورپرلوررهي سوی دئ اولومړۍ شپه په بتخاک کي دنواب په کلاکي تېره کړې وه . ګویا نواب جبارخان پرچهاردهي سربېره په بتخاک کي هم کلادرلوده.

نواب عبدالجبارخان دسردارپاینده خان (۱۷۵۸ ـ ۱۸۰۰ع)څلرم زوی وچي د۱۱۹۷هق = ۱۷۸۲ع کال زېږېدلی اوپه ۱۲۷۰هق د۷۳کالوپه عمرمړسوی اودعاشقان وعارفان په مزارکي دخپل وررونواب محمدزمان خان څنګ ته ښخ دئ . دوفات تاریخي ماده یې کابلي طبیب میرزاعبدالواسع خان داسي ویلې ده :

| | |
|---|---|
| برداشت ازمیانه سَرجان نخست وګفت | جـــبـــــارخان نمـــود میـان جنـان مکان |

په دې بیت کي دوهمه مصرع تاریخي ماده ده چي ابجدي ارزښت یې ۱۲۷۳کیږي اوله دې عددڅخه چي د(جان) سریعني (ج = ۳) د"برداشت" په قرینه تفریق سي ،یوزرودوه سوه اویا پاتیږی اوداکال په قمري حساب دنواب عبدالجبارخان دمړیني کال دئ .دنواب عبدالجبارخان  مورکوهستانۍ (سریته )وه .مرحوم غلام محمدغباردی دامیردوست محمدخان "علایی"وروربللی دئ (وګ :افغانستان درمسیرتاریخ ـ ۵۱۶ مخ)  ده اته ودونه کړي وه چي یوه ښځه یې قزلباشه،دوې یې هندوستانی،دوې یې پوپلزی،دوې یې بارکزۍ،اووروستۍ یې کشمیرۍ وه . له دوی څخه یې دیارلس زامن پاته سول چي نومونه یې دادي : عبدالروف خان،عبدالرحیم خان،عبدالشکورخان، عبدالغفارخان،عبدالرحمان خان،عبدالغني خان،عبدالغیاث خان،شاه مردان خان،علیمردان خان،عبدالقیوم خان، محمداکبرخان ، محمدافضل خان اوحبیب الله خان .

دنواب جبارخان د ورور نواب محمدزمان خان دکورنۍ یوښاخ په کندهارکي ماته معلوم دئ . دکندهار ښار جنوب ته دترنک رودپرغاړوباندي دبارکزوکلي پراته دي . د ترنک رود پرجنوبي څنډه باندي لږڅه شرق ته مایل دمیانجوی په نامه یوکلی دئ چي دنواب محمدزمان خان د زوی شجاع الدوله اولاده پکښې میشته ده . ددغي کورنۍ متاخر مشر محمداکبرخان نومېدئ  چي د حاجي جمال خان نیکه د زیارت په محوطه کي ښخ دئ . دمیانجوی اوسني اوسېدونکي دنوموړي محمداکبرخان د دوو زامنو محمدسرورخان او محمداسلم خان اولاده ده . (۶)

پای/  ۲۰ سپتمبر۲۰۰۸



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de